غوره کوونکی: ډاکټر رحمت ربی ځیرکیار

۱۳ دسمبر ۲۰۱۵

## د زړونو او دماغونو ماينـونه

ما ځیرکیار ته یـو بې نومه چا له جرمني نه یو کتاب رالیـږلی دی او هیله یي رانه کړې ده چي یـو څه پرې ولیکم. خو په کـتاب او په اِینټر نیټ کې چا د دغه منلي ژورنالـیسټ او تاریخپوه د ژوندلیک په اړه څه نه دي لیکلي. اټکل کوم چي افغان ملتی تمایل به یي لاره، یا به یي په افغان ملت ګونـد کې دوستان لـرل؟ زه له دغه کتاب («د زړونو او فکرونو ماینونه») نه دوه برخي غوره کـوم او هره برخه د عبدالجلیل وجدي په خپله وینا کې پرېږدم

کـتاب د ۱۹۹۹د اپریـل په ۴(۱۵ وری ۱۳۷۸) بشپړ شـوی و او په کال۲۰۰۰کي خپور شوی و، او +۲۴۰ مخونه لـري .خپرنـدوی یي په جرمني کي «د پښتني فرهنګ د ودې او پراختیـا ټـولنه» ده، او کتاب د دغي ټولني د مشر محّمد اصـف وردګ په «ځاني مالي پانګه خپور شوی» دی. چاپځـی یي «ملت پـریس لاهور» دی. که څوک د بنووانـد وجدي د ژوند لیک په اړه معلومات لري. هیله ده چي زما سره یي شریـک کړي. او س به راشم د وجدي خپلي وینا ته

### (۱) باچا خان فـخر افغان د جمال میني تکیه خاني ته تـللی و

زما له نه هیرېدونکو خاطرو څخه یوه داده، چي زه د دموکراسی په لسیزه[ ۱۹۶۳-۱۹۷۳] کي د عاشورې د مراسمو په یوه ورځ[ په کابل کې] د جمال میني تکیه خاني ته ورغلم، زما یو ملګری هزاره قربانزاده چي هغه وخت یي له ماسره په یو دفتر کې کارکاوه زما له ورتګ څخه ډیر خوشحاله شو. همدا رنګه د ولسي جرګي یـو وکیل اسمعیل مبلغ چي د چا خبره ماورسره (سلام علیک) درلود زما د دغه ورتګ ډیره قدرداني وکړه

زه چي له تکیه خاني څخه وتلم داسي فکر راته پیداشو چي که چیرې د پښتنو ملي مشران د عاشورې په ورځ د جمال میني تکیه خاني ته ورشي نو د دغه کار نتیجه به د ملي وحدت د لاټینګښت له پاره ډیره ښه وي. بس نور کارونه مي پرېښودل له همغه ځای نه نیغ د افغان ملت د ګوند دفتر ته ورغلم او له دوی نه مي وغوښتل چي د هغه ګوند له مشر دیپلوم اینجنیر غلام محّمد فرهاد او د پښتنو د نامتو مشر خان عبدالغفار خان څخه هیله وکړي، چي د جمال میني په تکیه خانه کي د عاشورې د ورځي په مراسمو کي برخه واخلي. دواړه مشرانو داخبره په خوشحالی ومنـلـه

د عاشورې په ورځ کله چي دغه مشران ورسره نورمهم ملي او سباسي شخصیتونه، د جمال میني د تکیه خاني نږدې سړک کي له خپلو موټرانو څخه راکښته شول او د تکیه خاني په لوري یي حرکت شروع کړ، یو شمیر هزازه ځوانانو

خان عبدالغفار خان له زمکي څخه پورته کړ او د خپلو پیاوړو متو څخه یي ورته تخت جوړکړ. په همدغه روان تخت کي یي تکیه خاني ته ور ورساوه او هلته یي په خپل ممبر باندي کښیناوه. ښاغلي مبلغ د هرکلي په وینا کي خان عبدالغفار خان ته وویل: ,,ما می شندیم که بیشتر مردم بشما لقب فخر افغان داده ولی، میگویم که شما فخر آسیا نیز می باشید،،. په مقابل کي یي خان عبدالغفارخان په خپل مخصوص سبک سره د قامولی، ورورولی، میني او محبت په باره کي خبري وکړي

موږ[لیکوال عبدالجبل وجدي] وینو او خبریږو په کومو هیوادونو کي چي سني او شیعه مسلمانان یو د بل تر څنګ ژوند کوي د هغو ملکونو د امنیت مسئولین ډیره زیاته ویره لري ځکه په دغه ورځ احساسات ډیر په ځوښ راغلي وي. مګر په هغه ورځ د جمال میني په تکیه خانه کي د ژبي، نـژاد او مذهب په نامه درول شوي دیوالونه ونړیدل. په هغه ورځ یو پښتوعالم استاد [قیام الدین خادم] مرحوم په خپله وینا کي وویل چي موږ باید د نن په څیر یو د بل عبادتخانو ته ورشو. په ځواب کي یي محّمد اسمعیل مبلغ د استاد  نظر تائید کړ، خو یوه توضیح یي ضروري بلله، ویي ویل دلته چي تاسي راغلي یاست دا زموږ تکیه خانه ده، عبادت خانه نه ده. کنه نو زموږ اوستاسي عبادت خانه شریکه ده او هغه مسجد دی. دا خو د دموکراسی د لسیزي خبري وي وګورو چي د ثور د کودتا[ ۱۳۵۷لمریز=اپریل ۱۹۷۸] نه وروسته حالاتو او روابطو د څه ډول تراژیدی بڼه غوره کړه. مخونه: ۸۰ تر۸۱

**خدایه څه شول هغه ښکلي ښکلي خلک.....په ظاهر په باطن سپین سپیڅلي خلک**

رحمان بابا

۱۲ دسمبر۲۰۱۵=۲۰ لینده/قوس ۱۳۹۴